# د اولادونو ترمنځ عدالت او د ښځو فضیلت

**شیخ فرید الله ازهري**

إن الحمد لله الذي قال في كتابه الكريم: ﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۝ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ النحل: ۵۸ - ۵۹ والصلاة والسلام على الذي أرشدنا بقوله: « مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ فَصَبَرَ عَلَيْهِنَّ، وَ أَطْعَمَهُنَّ، وَ سَقَاهُنَّ، وَ كَسَاهُنَّ مِنْ جِدَتِهِ كُنَّ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». ( سنن ابن ماجه رقم الحديث: ۳۶۶۹)

و على آله و أصحابه من سار على نهجهم إلى يوم الدين.

و بعد:

د موږ په ټولنه کې ځینې سیمې داسې شتون لري چې هلته د لوراو زوی ترمنځ توپیرکېږي دا توپیر په ګڼو طریقو سره راتلی شي لکه په: سوغات، ډالۍ، پوښاک، مسکن، خوراکي توکو، تعلیم او داسې نورو امورو کې چې لاملونه یې امکان لري ډیروي یا خو دا فکروي چې هلکان والدینو سره د زړښت په وخت کې ښه لاس ورکوي او یا دا چې افغانستان یو زراعتي هیواد دی نو دوی د کورکلي او کښت او بزګرۍ چارو کې په نسبت د زامنو پیاوړي او غښتلي وي او یا خو دا دود د جاهلیت دور څخه را نقل شوی چې د لورانو زیږیدل عار، شرم او د بد مرغۍ او سپیره توب نښه ګڼله او پرې خوا بدي کېدل به چې په خواشینۍ سره دغه دود زمونږ په ټولنه کې هم په ځینو سیمو کې شتون لري، جاهلي موروثي دودونو او خویونو چې په عربو کې وو پلارته یې اجازه ورکوله چې خپلې لورانې: د فقر، بیوزلۍ یا هم د هغه ننګ او شرم لامله وژني او ژوندۍ یې خښې کړي چې کیدای شو دغه نجلۍ د ځوانۍ په مهال خپلې کورنۍ، قوم ته بېرته یې راوړي.

د الله پاک کتاب د عربي جاهلي ټولنې د لونو د زیږون په مهال د پلرونو حالت داسې بیانوي: ﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۝ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ النحل: ۵۸ - ۵۹

**ژباړه**: او کله به چې د دوی کوم یو ته د لورزیږون زیری وشي نو د ډېرخفګان لامله یې بڼه واوړي او توره به شي او سخت په غصه شي او د خپل ټبر او قوم نه ځان پټوي؛ ځکه یې ډېرناوړه زیری پرې شوی (او لا لهانده، سرګردانه له ځان سره فکرکوي چې) آیا دغه نجلۍ خواره ژوندۍ وساتي او که د خاورو لاندې یې ژوندۍ خښه کړي؟ هو ځومره بده فیصله چې دوی کوله!!

لیکن اسلامي شریعت دا کار بد ګڼلی او د اولادونو ترمنځ یې مساوات او عدالت د اولادونو حق ګڼلی، د اولادونو ترمنځ د مساوات حق څخه مطلب په روزنه، سوغات ورکولو، اخلاق او نیک چلند کې بر ابری ده. مثلاً که زوی ښوونه او روزنه تر لاسه کوی باید لورهم د هغې څخه په شرعي ډول بې برخې نشي او که کوم یو ته تحفه ورکول کیږي، نورو ته نجلۍ وي که هلک، هم تحفه ورکړل شي. دواړه د الله جل جلاله هبه او ډالۍ ده چې الله پاک والدینو ته ورکړې دی، لکه څرنګه چې قرآن کریم پدې هکله فرمایي: ﴿ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ ۝ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ الشورى: ۴۹ - ۵۰

**ژباړه**: چاته چې وغواړي لورانې وربښي او چاته چې وغواړي زامن وربښي یا دا چې هم زامن ورکوي او هم لورانې او څوک شند ګرځوي چې خوښه یې وي، هغه ډېرپوه او ځواکمن دی.

د موږ خوږ پیغمبرﷺ د اولادونو ترمنځ په عدالت او انصاف باندې تأکید کړی او فرمایي: « اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ اعْدِلُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ».[1]

**ژباړه**: د خپلو اولادونو ترمنځ عدالت وکړئ د خپلو زامنو ترمنځ عدالت وکړئ.

د لورګانو او زامنو ترمنځ بر ابرښت او مساوات ولو که د ښکلولو په ډول هم وي باید مراعت شي ترڅو هغه لوریا زوی چې هغه محروم کړل شي، زړه کې یې د خپل پلار او مور سره او یا د اولادونو خپل منځ کې یو تربله کینه، حقد او حسد رانشي، پدې هکله روایت دی: « عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ لَا أَتَّهِمُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَعَاهُ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَاءَ ابْنٌ لَهُ فَقَبَّلَهُ وَضَمَّهُ وَأَجْلَسَهُ إِلَيْهِ ثُمَّ جَاءَتْهُ ابْنَةٌ لَهُ فَأَخَذَ بِيَدِهَا فَأَجْلَسَهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ عَدَلْتَ كَانَ خَيْرًا لَكَ قَارِبُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ وَلَوْ فِي الْقُبَلِ».[2]

**ژباړه**: ابن جریج نه روایت دی وایي: هغه چا خبرراکړی چې زه یې( په درواغو ) نشم متهمولی، په دې باندې چې رسول الله لره یو انصاري سړي را وغوښتلو، چې د ده زوی ورته راغلو او زوی یې ښکل کړو، نږدې کړ او خپل ځان سره یې کینولو، بیا د هغه لورورته راغله نو لاس نه یې ونیوله او کینوله، نو نبيﷺ ورته وویل: که چېرې عدل دې کړی وی ښه به وه درته، د خپلو اولادونو ترمنځ نږدیوالی( بر ابري/ عدالت) وکړئ اګر که ښکلولو کې هم وي.

که د ټولنې کورنیو او په ځانګړي ډول د لورانو او زامنو ته نظروکړو وبه وینو چې د والدینو په خدمت، ترحم، شفقت، مرسته او نه تند ویلو کې لورګانې ډېرې ګرندی دي، نو ولې موږ زامنو ته په لورانو غوروالی ورکوو، ډیرواړي لورڅه نه ورکوو او زامنو ته هرډول ډالۍ او سوغاتونه ورکوو، د اولادونو ترمنځ په سوغات او ډالۍ کې هم باید عدالت وکړل شي که چېرې زوی ته څه سوغات یا ډالۍ راوړئ او یا یې ورکوئ نو لورته هم باید همغه ډول کړن ترسره

کړئ، ځکه نعمان ابن بشیر رضي الله عنه خپلو ځینو اولادونو ته څه وبخښل او کله چې پې پیغمبر ﷺ ته موضوع یاده کړه هغه وفرمایل: «عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضي الله عنهما قَالَ سَأَلَتْ أُمِّي أَبِي بَعْضَ الْمَوْهِبَةِ لِي مِنْ مَالِهِ ثُمَّ بَدَا لَهُ فَوَهَبَهَا لِي فَقَالَتْ لَا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَأَخَذَ بِيَدِي وَأَنَا غُلَامٌ فَأَتَى بِيَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ إِنَّ أُمَّهُ بِنْتَ رَوَاحَةَ سَأَلَتْنِي بَعْضَ الْمَوْهِبَةِ لِهَذَا فَقَالَ أَلَكَ وَلَدٌ سِوَاهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأُرَاهُ قَالَ لَا تُشْهِدْنِي عَلَى جَوْرٍ وَقَالَ أَبُو حَرِيزٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ».«3»

**ژباړه**: د نعمان بن بشیر رضي الله عنه څخه روایت دی چې و ایې مور مې پلار نه وغوښتل چې ماته د خپل مال څخه څه هبه راکړي بیا ورته میسره شوه څه هبه راکړه مور مې ورته وویل: تر هغو به راضی نشم چې پدې نبي ﷺ شاهد ونه ګرځوي پلار مې زه د لاس څخه ونیولم په داسې حال کې چې زه ورکوټی وم نبي ﷺ ته یې بوتلم ورته وویل: د ده مورد رواحه لور مانه وغوښتل چې ده ته څه هبه ورکړم، نبي ﷺ ورته وفرمایل: آیا تا لره نور زامن شته؟ وویل: هو، راوي وایي ګمان مې دی چې وې فرمایل: زه په ظلم شاهد نکېږم، ابو حریز د شعبي څخه داسې روایت کوي چې زه په دروغو شاهد نکېږم.

**یوه شبهه او د هغې ځواب**: د نارینه او ښځې د میراث تفاوت په اړه یو اشکال هغه داچې د سورت نساء په (۱۱) آیت کې راځي: ﴿لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ﴾ النساء: ۱۱ د نارینه ؤلپاره دی دوه برابرد ښځود برخی نه. دلته یو اشکال او پوښتنه مطرح کېږي چې پدې ځای کې ظاهراً د نارینه او ښځینه تر منځ تبعیض او توپیردی؟ په ځواب کی باید ووایو، که چیری دقیق ځیرشو د اسلام حکیمانه عدالت دی، ښځه د نارینه څخه ډیره برخه وړي، ځکه ښځه خپل سهم او شتمني ساتي او د مصرفولو په اړه مکلفیت نلري، خو دنارینه برخه د نفقې او د کورني مصارفو په لاره کې مصرفیږي، تاسوته به یو مثال ذکر کړم: یو پلار وفات شو او ورڅخه یو زوی او یوه لورپاته شوه او شپږ لکه افغانی هم ورڅخه میراث شوې، څلورلکه افغانی د زوی او دولکه افغانی د لور شوې، زوی واده کوي د واده کولو مراسمو کې یې ټولې پیسې مصرف شوې، خو نجلی میړه کوي، مهر هم اخلي او نفقه یې هم په میړه باندې ده، نو دا هیڅ مصرف نلري.

**دا شبهه او ځواب یې په بل عبارت سره**: په ظاهره داسې شبهه مورفکرونو ته راځي چې ولې میراث د هلک برخه زیاته ده په نسبت دې نجلی؟ دا شبهه دې ونشي؛ ځکه هغه توپیرچې په میراث کې د زوی او لورد برخې ترمنځ دی هغه د الهی عدالت په اساس دی؛ ځکه چې په اسلامی ټولنه کې د کورډېر مسئولیت د زامنو په غاړه وي او د لور مسئولیت د کور او کورنی په وړاندې د نارینه په پرتله کم دی دارنګه په اسلامي شریعت کې د نارینه په زمه د نجلی مهرهم لازم ګرځیدلی. برسیره پردې په واده کولو سره نوی کور جوړوي چې هلته هم د نفقې، لباس او پوښاک او کور مسئولیت د هغې د میړه په غاړه وي؛ ځکه نو که چیرې د پلارد مال څخه لورته د زوی سره برابره برخه ورکړل شي دا به هم د عدالت د غوښتنو خلاف وي.

**د ښځو فضیلت**: د اسلام په مقدس دین کې ښځې ډیرې اهمیت او فضیلت لري که ښځه نوې مور، خور، لور، ترور، خاله وریره او خورزه به هم نوې، ښځه د انساني نسل د بقا سبب دی نیمه بلکې د نیمې څخه زیاته برخه د انسان د نسل جوړوي، ښځو کې د آسیه بي بي د فرعون میرمن، مریم د عمران لور، بي بي عائشه، بي بي خدیجه فاطمه زهرا رضي الله تعالی عنهن په شان ښځې شتون لري، یوازې د حضرت بي بی عائشې رضي الله عنها څخه (۲۲۱۰) د حدیثو روایتونه شوی. د اسلام مقدس دین په وضاحت سره دا څرګندونه کوي چې ښځه او نارینه په اصل پیدایښت، بشري خصوصیاتو، تکالیفو او مسئولیتونو په تحمل په جزا او سزا کې سره یو دي. پدې هکله الله پاک فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾ النساء: ۱

**ژباړه**: ای خلکو! د خپل پالونکي څخه ووېرېږئ هغه پالونکي چې تاسې یې د یو انسان نه پیدا کړي یې بیایې د هغه ښځه د هغه له ډلې پیدا کړه او د دغو دوو څخه یې (د ځمکی پرمخ) پریمانه نارینه او ښځینه خپاره کړل او د هغه پالونکي له (غصی) ځان وساتئ چې یو بل ته پری قسم ورکوئ او د دینه وېره وکړئ چې د خپلولۍ اړیکې وشلوئ (او صله رحمي له پامه وغورځوئ)؛ ځکه بیشکه الله پاک ستاسو څارونکی دی.

پیغمبر ﷺ د هغه پلار لپاره په جنت کې د خپل ځان سره یو ځای والي زیری ورکړی چې خپلو لونو سره ښه چلند او د هغوی په روزنه او ښه ښوونه کې یې هڅه او صبر کړی وي او د الله حق د هغوی په هکله مراعات کړي ترهغه چې لور انې یې ستړې شي یا دا چې پخپله مړې شي لکه چې رسول الله په یو حدیث کې فرمایي: « عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ»«4»

**ژباړه**: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله فرمایلي: چا چې دوه لورانو نفقه او روزنه ورکړه ترڅو چې ستړې شوې په ورځ د قیامت کې به راشي زه او هغه به داسې یو، دواړه ګوتې سره نږدې کړې. په بل حدیث کې لولو: « ما من مسلم له ابنتان فیحسن الیهما ما صحبتاه – أو ماصحبهما– الا أدخلتاه الجنة».«5»

**ژباړه**: هر مسلمان چې دوه لورګانې ولري او د هغو سره ترڅو چې ورسره وي او یا ترخو چې دی ورسره وي نیکي وکړي یقیناً دغه دواړه لورګانې به هغه جنت ته ننه باسي.

پيغمبرﷺ ښه ښځه غوره پانګه ګڼلې چې نارينه يې په دنيا کې لري او همدغه صالحه ښځه د خاوند د نيکمرغۍ يو لامل حسابوي په حديث کې پيغمبرﷺ عمرﷺ ته په وينا کې فرمايلي دي: « الآ أخبرک بخير ما يکنز المرء؟ المرأة الصالحة إذ انظر إليها سرته و إذا أمرها أطاعته و إذا غاب عنها حفظته». [6]

**ژباړه**: آيا تا د نارينه په ډېره غوره پانګې باندې خبر نکړم چې خپل ځان لپاره يې ذخيره کوي؟ دغه خزانه د هغه صالحه ښځه ده کله چې ورته وګوري نو خوشحاله يې کړي او چې امرورته وکړي اطاعت يې وکړي او کله چې خاوند له کوره لري وي دهغه د مال، کور، اولادونو، عزت او پت څخه ساتنه کوي. په بل حديث کې فرمايلي دي: « الدنيا متاع و خير متاعها المراة الصالحة». [7]

**ژباړه**: دنيا ټوله متاع ده خوډېره ښه متاع يې ښه ښځه ده همدا شان فرمايي: « من رزقه الله امرأة صالحة فقد أعانه على شطر دينه فليتق الله فى الشطر الثاني». [8]

**ژباړه**: چاته چې الله نيکه ښځه ورکړه يقيناً د هغه سره يې د نيم دين په ساتنه کې مرسته وکړه نو د پاتي نيمايي دين په ساتنه کې د الله نه وډار شي. د ښځې غوراوی او په اسلام کی د ښځې ځايګی د پيغمبر سره د فاطمې رضي الله عنها د ځايګی نه په يې ښه وپېژنو چې فرمايي: « فاطمة بضعة مني، فمن أغضبها أغضبني» [9]

**ژباړه**: فاطمه زما د بدن يوه ټوټه غوښه ده چا چې هغه غصه کړه نو زه يې غصه کړم د حديث دغه مفهوم په بل تعبير سره هم د پيغمبر څخه نقل شوی: فاطمه ځما د بدن يوه توکړه غوښه ده هغه څه ما خفه او غمجن کوي چې هغه خفه کړي او هغه څه ما خوشحاله کوي چې هغه خوشحاله کړي.

**د مور په توګه د ښځې فضيلت**: د بشر په تاريخ کی هيڅ داسی نظام او دين ندی ليدل شوی چې د اسلام په کچه يې د ښځې احترام يې د مور په حيث کړی وي او مقام يې ورته پورته وړی وي، په اسلام کې د مورد تکريم په اړه کلکی سپارښتنی راغلی دي چې مورته احترام، د الله د عبادت او په توحيد ايمان په کتارکې راوستل شوی او د مور سره ښيګنه د دين د واجباتو په ډله کې توصيه شوی دي، په اسلام کې د مور حقونه هغوکړاوونو ته په کتو چې د حمل، زيږون، شيدو ورکولو، روزلو د ماشوم په مهال يې ګالي د پلار د حق څخه مؤکد ده او په تکراري ډول د قرآن کريم په څو آيتونو کې ذکر شوی ترڅو د اولادونو په ذهن کې دغه حقيقت بنسټيز شي چې د مور حقونه د حقوق الله نه وروسته د حقونو په سرکې راځي چې يو انسان يې پربل لری لکه چې الله پاک فرمايي: ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴾ لقمان: ١٤

**ژباړه**: مونږ انسان ته د هغه د پلار او مور په اړه سپارښت کړی (چې د هغوی په حق کې نيک اوسی او نيکی وکړي) خصوصاً مور؛ ځکه چې: مور هغه په ګيډه کړی او هر مهال په تاند ضعف او کمزوری اخته شوی، د شيدو خوړلو پای يې دوه کاله ده او ځما او هم د خپل مور او پلار منونکی اوسه! او پوه شه! چې په پای کې بياځلی راتګ زما په لوردی( او ښو خلکوته جزا او بدو خلکو ته سزا ورکوم).

په صحيح حديث کې راغلي دی: « جاء رجل الى النبي . صلى الله عليه وسلم . يسأله: من أحق الناس بحسن صحابتي؟ قال أمک قال: ثم من؟ قال: أمک قال: ثم من؟ قال: أمک قال: ثم من؟

قال: أبوک». [10]

**ژباړه**: يو سړی پيغمبرعليه السلام ته راغی وي پوښته چې زما د ډېر ښه ملګرتيا وړ څوک دی؟ پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: موردی، هغه سړی و پوښت: بيا څوک؟ وي فرمايل: موردی، وی ويل: بيا څوک؟ هغه حضرت وفرمايل: موردی، وی ويل: بيا څوک؟ وی ويل پلاردی.

**د لور په توګه د ښځې فضيلت**: څرنګه چې وړاندې ذکر شول چې پيغمبرﷺ د هغه پلار لپاره په جنت کې د خپل ځان سره يو ځای والي زيری ورکړی چې خپلو لونو سره ښه چلند او د هغوی په روزنه او ښه ښوونه کې يې هڅه او صبرکړی وي او د الله حق د هغوی په هکله مراعات کړي ترهغه چې لوراني يې ستړې شي يا دا چې پخپله مړې شي لکه چې رسول الله په يو حديث کې فرمايي: « عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ» [11]

**ژباړه**: د انس بن مالکﷺ څخه روايت دی چې رسول الله فرمايلي: چا چې دوه لورانو نفقه او روزنه ورکړه ترڅو چې ستړې شوي په ورځ د قيامت کې به راشي زه او هغه به داسې يو، دواړه ګوتې سره نږدې کړې.

**د ميرمنې په توګه د ښځې فضيلت**: همدا شان اسلام د ښځې مرتبه د نارينه د ميرمنې په څېر لوړه کړې او ښځې ته يې ستر شان ورکړی او رهبانيت يې باطل اعلان کړی او نارينه يې ازدواج ته هڅولي او د خاوند، ښځې پيوند يې په هستی کې د الله د قدرت نښه بللی: ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ الروم: ٢١

**ژباړه**: ( د الله په قدرت او عظمت باندی دلالت نښوکې) يوه نښه دا ده چې تاسو څخه يې د ژوند ملګری تاسوته پيدا کړی ترڅو د هغوی ترڅنګ ( د قلبی جاذبی او کشش په رڼا کې) هوسا اوسی او دهغوی او تاسو تر مينځ يې مهر او محبت واچاوه ( او هر يو يې پربل مين ګرځولی ترڅو په آرامی او هوسايی

سره د غوړيدا او پرمختګ د هر يو د شخصيت وګرځي او د انسانانو د ژوند د پيوند او د هغوی جسمي او روحاني تعادل برقرار او محفوظ وي مسلمان پدی کارونو کې د الله قدرت او عظمت) پدې کې نښی او دلايل شته د هغه کسانو لپاره چې ( د نړی د شيانو او مخلوقاتو په اړه) فکر کوي.

په بل حديث کې راغلي دي: « من سعادة ابن آدم ثلاثة و من شقاوة ابن آدم ثلاثة من سعادة ابن آدم: المرأة الصالحة والمسكن الصالح والمركب الصالح ومن شقوة ابن آدم المرأة السوء، والمسكن السوء والمركب السوء». «12»

**ژباړه**: درې څيزونه د انسان د نيکمرغی لاملونه دي بده ښځه، بدکور او بده سپرلی دي.

اسلام د دی ترڅنګ چې د ښځی تکريم کوي يو لړ حقونه يې د خاوند او ښځی لپاره ټاکلي دي او خاوند اړباسي چې هغه ترسره کړي لکه: مهر چې د ښځی سره د خاوند د ارادی او رغبت څرګندوی دی، قرآن کريم فرمايي: ﴿ وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ﴾ النساء: ٤

**ژباړه**: او د ښځو مهرونه د خالصې او فرضې الهی ډالی په توګه ورکړئ نو که چيرې يې په خپله خوښه د خپل مهر نه څه تاسوته وبښي( هغه ترلاسه کړئ) حلال او خوا‌ړه يې وخورئ.

بايد زياته کړو چې د اسلام مقدس قانون د ښځی شخصيت په واده سره د نارينه په شخصيت کې ندی ذوب کړی لکه څنګه چې: د غرب په فرهنګ کې معمول دی چې ښځه د خاوند تابع ګرځي او نور ښځه د خپلي کورنی په نوم، نسب او لقب نه پيژندل کيږی بلکې د فلاني سړي د ماندينی په نوم پيژ اندای شي، خو په اسلام کې د ښځې د شخصيت تشخص او استقلال د واده نه وروسته د پخوا په شان ساتلی دی د همدې امله مونږ د پيغمبرﷺ ماندينی په خپلو نومونو او نسبونو سره پيژنو.

مثلا: خديجه بنت خويلد، عائشه بنت ابی بکر، حفصه بنت عمر، ام حبيبه بنت ابو سفيان، صفيه بنت حيی او نور رضی الله عنهن همداشان په واده سره د ښځې مدني شخصيت په اسلام کې کمښت نه مومي او نه هم ښځه خپل اهليت د عقودو، معاملاتو او نورو مالي تصرفاتو کې له لاسه ورکوي، نو ښځه کولای شي د واده وروسته په مستقل ډول پيرل او پيرودل وکړي په خپلو ملکيتونو کې تصرف وکړي او د خپلې شتمنۍ نه ورکړه او صدقه وکړي، دارنګه کولای شي چې معاملات په خپله او يا د وکيل په ذريعه ترسره کړي.

بناءً په اسلامي شريعت کې د ښځې لوړه مرتبه ده چې د دې مرتبې په اساس بايد کمه ونه شميرل شي او د لوراوزوی ترمنځ توپيرونه کړل شي د اولادونو ترمنځ عدالت او انصاف وکړل شي.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحابته اجمعين

**موخذونه**:


١- سنن ابي داود، باب فی الرجل يفضل بعض ولده فی النحل، د حديث شمېره: ٢٥٤٤، شيخ الباني د صحيح والي حکم پرې کړی.
٢- مصنف ابن عبد الرزاق الصنعاني، أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري اليماني الصنعاني( المتوفى: ٢١١هـ)، بتحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي، ( ٩٩/٩هـ ، د حديث شمېره: ١٦٥٠١) الناشر: المجلس العلمي- الهند ، دويمه طبعه کال، ١٤٠٣هـ.
٣. صحيح البخاري، بَابٌ لَا يَشْهَدُ عَلَى شَهَادَةِ جَوْرٍ إِذَا أُشْهِدَ، حديث رقم: ٢٦٥٠.
٤- صحيح مسلم، حديث: ٢٦٣١.
٥- سنن ابن ماجه، حديث: ٣٦٧٠.
٦- سنن ابي داود، حديث: ١٦٦٦.
٧- مسند الشهاب لمحمد بن سلامة القضاعي حديث: ١٢٦٤.
٨- المعجم الأوسط، حديث: ٩٧٢.
٩ - صحيح البخاری، حديث: ٣٧١٤.
١٠- متفق عليه.
١١- صحيح مسلم، حديث: ٢٦٣١.
١٢ - مسند الامام احمد، حديث: ١٤٤٥.